۱۲ کاله باکیفیته څیړنه

د څیړنې د بنه افغانستان لپاره AREU

# په افغانستان کې د اوبو په تړاو د لانجو د حل د بهیر د پېچلتیاوو سپړنه

ونسنت تاماس

زمری ۱۳۹۳

## • له اوبو سره په تړلیو لانجو ځان پوهول او د هغوی د حل لارو بهیر

په تېرو څو لسیزو کې د مدني او جنايي مسایلو په تړاو په افغانستان کې څېړنو عدالت او د لانجو د حل بهیرونو ته ډېر پام کړی دی. خو په ځانګړې توګه له اوبو سره په تړاو شخړو باندې څېړنې یا خورا محدودې دي او یا هم پیکه دي.

په افغانستان کې اوبه «د لانجې لویه سرچینه[1]» یاده شوې ده. خو هغو څېړنو چې دا موضوع یاده کړې تر ډېره بوازې تر سروې ګانو پورې محدودې دي او د دغو تش په نامه «د اوبو لانجو» پر څرنګوالي، یا د ځايي ادارو له خوا د اوبو د ادارې پر اصولو او یا هم د حل لپاره یې د پېچلو ټولنیزو بهیرونو په باب بشپړې موندنې او معلومات نه دي ورکړي.

په ۲۰۱۳ کال کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد یوې څېړنې هڅه وکړه دغه تشه ډکه کړي. دې څېړنې په ځانګړې ډول هڅه وکړه چې د افغانستان په شمال لویدیځ کې د سرپل د اوبو په سیمه کې په ټولیزه کچه د اوبو پر حقونو او د اوبو د ګډې کارونې په تړاو د شخړو پر حل غور وکړي. د اتو قضیو پر څېړلو دې څېړنې وښودله چې څرنګه ځایي لوبغاړي او ادارې د اوبو په تړاو په لانجو حل کې ښکېلې دي او په ځانګړې توګه د پرېکړو او د انتخاب په بهیر غور وشو.

لاندې وړاندې شوې موندنې د هغو اصلاحاتو په باب د مهم بحث اډانه کېدای شي چې د اوبو د سکتور په برخه کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په تیره لسیزه کې خپل کړي.

## • د اوبو په تړاو د لانجو حل کې په لوبغاړو، ادارو او پرېکړه کوونکو پوهېدل

**هره شخړه په بیلا بیلو کچو د مختلفو کسانو او ادارو خوځښت ته اړتیا لري.**

د څېړنې شواهد دا حقیقت ښیي چې د اوبو د لانجې په حل کې،که فردي وي که د ولایتونو ترمنځ لانجه وي، د کسانو د خوځښت چاره کوم ټاکلی او منظم شوی بهیر نه لري. حقیقت دا دی چې بیلا بیلې شخړې په بیلا بیلو سطحو د مختلفو کسانو او ادارو خوځښت ته اړتیا لري. په ټیټه کچه د کانال په سیستم کې دننه ډیرې لانجې د ولس دننه اداري لوبغاړي حلوي چې په ځانګړې توګه د اوبو د تنظیم سره تړلي (د بېلګې په توګه ساعتچي یا میراب) او که اړتیا وي نو بیا د کلي عمومي اداري یې هم حل کوي. عموما لانجې له دغې ټولنیزې ساحې دباندې نه وځي ځکه چې که داسې وشي نو داسې احساس کیږي چې ولس او مشرتوب په کې بدنامه کیږي. په دغه کچه د ځایي حکومتي ادارو لکه د اوبو د نظم اداره یا د زراعت ، اوبه خور او مالدارۍ اداره هیڅ ځای نه لري.

په لویه کچه چې پر سیند د بند او یا کانالونو د شبکې مسله وي هلته بیا لا بیلا بیل لوبغاړي او ادارې ښکېلیږي چې لانجه حل کړي. په دوی کې ځایي حکومتي چارواکي، د دولت استازي لکه ولایتي والیان، د ولایت په کچه ټاکل شوي استازي، ملي سیاسي ستې او په ځینو کم شارو مواردو کې رسمي عدلي سیستم ښکېلیږي. په دغه کچه که چیرې د مشرانو غیر رسمي غونډې د مشکل په حل کې بریالۍ نه شي نو د بهرنیو لوبغاړو ښکېلېدو ته د ستونزې په توګه نه بلکې په دې بهیر کې ورته د یوه بل مشروع ګام په سترګه کتل کیږي.

**بېلا بېلې لانجې په مختلفو کچو د پرېکړو له جلا جلا بهیرونو او نورمونو سره تړلې دي**

په مختلفو کچو بیلا بیلې لانجې د پرېکړو له جلا جلا بهیرونو او نورمونو سره هم تړلې وي. په ټیټه کچه چې حل لاره په کلي کې دننه او د میر اب سره تړاو لري ډېره مینه له مشورې او غیر رسمي پرېکړې سره ده. په لوړه کچه چې لویې لانجې په کې پېښیږي د پرېکړو بڼه د سلا مشورې او پر یوه بل د واک دخوځښت په څیر مسایلو ترمنځ بیلا بیل وي. په وروستۍ قضیه کې پرېکړه د اختیار یا واک له اصولو سره سمه وي، دا د لانجې د حل هغه اصول دي چې مدعیان په کې منځګړي ته ټول واک ورکوي. د پرېکړو د بهیر د پرمختیا انتخاب هم ښایي مختلف وي.

---

۱ ایم والډمن، « په افغانستان کې د ولسونو ترمنځ سوله راوستل: د ملي تګلارې یوه قضیه» ( اکسفورډ: اکسفام نړیوال ۲۰۰۸) ایشیا فاونډېشن، « په ۲۰۱۱ کال کې افغانستان: د افغانانو سروې» ( کابل : ایشیا فاونډیشن، ۲۰۱۱).

### د لوبغاړو ترمنځ د زغم او منلو ارزښت

له څېړنې ترلاسه شوی عمومي نظر دا ښيي چې له اوبو سره په تړاو د لانجو حل ته فردي لوبغاړی یا اداره نشته چې یا دې دغه توان په یوازې سر ولري او یا دې هم له دغه مشروعیته برخمن وي. ان که پیاړوي منځګړي هم یوه لانجه ختمه کړي د دوی ښکېلېدل یوازې هغه وخت بریالی وي چې د ولایت والي دا موقع ورکړې وي او مشروعیت یې وربښلی وي. په ځواب کې له والیانو ښایي وغوښتل شي چې د لانجو د حل پایلې او بهیر ته موقع ورکړي او مشروعیت وروبخښي خو دوی خپله د وروستۍ پرېکړې په عملي کولو کې عموما مخامخ ښکېل نه وي. دغه راز د اوبو د نظم ځايي اداره هم د منځګړي رول نه لوبوي خو بیا هم په دې بهیر کې د ساري په توګه د تخنیکي او لوژیستیکي مرستې د برابرولو په برخه کې د یوه مشروع برخه وال په سترګه ورته کتل کیږي. د لوړې کچې د لانجې بریالی ( یا ناکام ) حل په دې پورې تړاو لري چې څرنګه بیلا بیل لوبغاړي خپلې هلې ځلې څرګندوي او همغږې کوي.

### شخصي ځانګړتیاوې او توان تر ادعاو ډیر مهم دی

څېړنه دا خبره سپینوي چې له اوبو سره په تړاو د لانجو حل له رسمي شته چارو سره سر نه خوري. بهرني لوبغاړي چې د لانجو حل ته د منځګړیتوب لپاره فعالېږي د خپلو شخصي وړتیاو او توان له امله انتخاب شوي وي د ادارې او یا له ادارو سره د تړاو له امله نه وي غوره شوي. په همدې دلیل د شخړو د حل په تړاو په عام ډول منل شوې او ګڼل شوې ځانګړې ادارې او انستیتیوتونه ( لکه ولایتي شوراګانې، سي ډي سي ، میر اب ) سره ونه تړي.

منځګړي د اوبو په تړاو پر ځانګړو « د لوبو د قوانینو» د پوهېدا پر ځای د شخړې په پراخو ټولنیزو او سیاسي بعدونو باندې د پوهاوي په بنسټ غوره کېږي. د شخړې غاړو ته د منځګړو د مشروعیت لپاره د پخوانیو لانجو د حل له امله د دوی تجربه او له دوی سره د ملاتړ د شبکو پراخوالی او بېلابېل والی مهم دی. دغه راز په ولسونو کې د دوی د ټولنیز دریځ څرنګوالی هم مهم دی.

### د اوبو د ګډې کارونې په قوانینو باندې تر پوهاوي د لوبغاړو له خوا د مسایلو په سیاسي او ټولنیز بعد پوهېدل ډېره مهمه دي

د اوبو په تړاو د لانجو ځانګړي حل او د مهمو کسانو له خوا د پرېکړو په فکتونو پوهېدل تر دې ډېر کار ته اړتیا لري چې یوازې د اوبو د نظم او د هغې په پراخو ټولنیزو او سیاسي عواقبو باندې څوک پوه شي. په ډېرو مواردو کې د ښکېلو لوبغاړو لویه اندېښنه د لانجې د ممکنه زیاتېدو یا لا پراخېدو کمول وي دا نه چې د اوبو حقونه څرنګه په کلکه عملي شي. په دې برخه کې د ځايي واک لرونکو یا ملي سیاسي ستو چې د لانجې د حل د بهیر پایله جوړوي سیاسي ګټې ښایي په ځینو ځانګړو مواردو کې د اوبو د حقونو ښکاره سرغړاوی وي.

## • د تګلارې پر عواقبو خبرې

د دې څېړنې موندنې هغه پوښتنې راولاړوي چې د سرپل د اوبو له ساحې دباندې هم مطرح دي چې د افغانستان د اسلامي جمهوري حکومت د ۲۰۰۹ کال د اوبو په قانون کې د اوبو وړاندیز شوي نظم سره تړاو لري.

### د نویو ادارو خپل شوی چوکاټ او جوړښت؟

لکه په اول جدول کې چې اشاره ورته شوې، د اوبو د ساحې یوه برخه/د اوبو د ساحې شورا ایس بی اې/ ایس بي سي د اوبو د تنظیمولو په برخه کې د پرېکړو چارې د اوسني ځايي کار دود سره خورا توپیر لري.

| د لانجو د حل اوسنی کار دود | ایس بی اې/ایس بی سی مودل |
|---|---|
| د پرېکړو کول د اشخاصو ځانګړنو ته په پام سپارل نه له ادارو سره تړاو ته په کتو | دچارو د وېش تقسیم<br>د اوبو د ساحې/ د پرېکړو دنده اوبه کاروونکو ته سپارل یا حکومت / تخنیکي سلاکار |
| د لانجې د حل پر وخت د لوبغاړو د فعالولو لپاره د بدلون او ځان عیارولو توان لرل | ټول لوبغاړي ورته دي د ای ډبلیو ار ایم د معیارونو منل او له دې منطق سره سم چې استازې دې د اوبو د کارولو یا د انستیتیوتونو په حساب وي |

له یوه اړخه د ایس بی سي بڼه یو ټاکلی، سیستم د ټولو لوبغاړو لپاره غوره بولي او د ګډو اوبو د سرچینو د ادارې له منطق سره سم د اوبو د کارونې په بنسټ استازیتوب یادوي. دغه سخت جوړښت د اوسني دود استازی نه دی، اوس د لانجې په حل کې د بیلابیلو لوبغاړو او ادارو ښکېلتیا بدلېدونکې او له شرایطو سره سمېدونکې ده چې حالت، کچې او ټولنیز سیاسي حالت ته په کې کتل کیږي. په دې حساب اوسنۍ کاري بڼه د ځايي خلکو لا ډېره استازې ده او د هرې شخړې ځانګړې برخې په کې رانغښتل کېږي. د تړلي جوړښت خطر دا دی چې ښایي د هغو لوبغاړو برخه په کې نه وي چې د لانجو د داسې حل کولو د پرېکړو مشروعیت او واک لری چې ټولو غاړو ته د منلو وړ وي.

دا داسې پوښتنې راولاړوي چې ایا ایس بي اې /ایس بي سي د تړلي جوړښت ماډل به د داسې حالاتو لپاره کار ورکړي که نه چې هره لانجه په کې ښایي د بېلو لوبغاړو ګډون ته اړتیا ولري چې په دغه ماډل کې ښایي نه وي.

### د والی نقش به څه وی؟

د ایس بي سی/ایس اي اې ماډلونه د اوبو کاروونکو او پرېکړه کوونکو ترمنځ هم په ایس بی سي کې ښکاره توپیر کوي او د تخنیکي سلاکارانو په توګه په ایس بي سي کې بیا د ځایي حکومت د لوبغاړو توپیر شوی دی. دا په عمل کې د روان حالت ښکارندویي نه کوي. د لانجې د حل لپاره د پرېکړه کوونکي په ډول پوښتنه دا ده چې د اوبودکاروونکو او پرېکړه کوونکو ترمنځ توپیر او د حکومت د استازو او تخنیکي مرستندویانو ترمنځ فرق به تر اوسني حالت ښه کار ورکړي چې اوس د اوبو کاروونکو او حکومتي استازو، ټاکل شویو چارواکو او سیاسي مشرانو ترمنځ په کې توپیر ښکاره نه دی.

سربیره پر دې دا ماډل د ولایتي والیانو، د ولایتي شورا غړو، د ولسي جرګې غړو او یا د سیاسي مشرانو نقش هم نه واضح کوي. خوځېړنه ښیي چې که څه هم دغه لوبغاړي د ایس بي اې/ایس بی سی د غړیو له څرنګوالي سره د قانون له یادونې سره سم مناسب نه دي خو د لانجو په حل کې د دوی ښکېلېدل په عمل کې خورا مهمه ده.

### ایا د اختیار اصول د اوبو د قانون له معیارونو سره سم دی؟

د ایس بي اې/ایس بي سي وړاندیز شوی جوړښت د اختیار د پرېکړې له اصولو سره هم په تناقض کې دی چې ډېر عملي کیږي. په ابتدایي کچه لوبغاړي چې د اختیار د اپیل مشروعیت لري ښایي دا وړتیا ونه لري چې په ایس بی سي کې ځای شي. په پراخه سطح دا اصول خپله د اوبو د قانون د ګډون له بېلګې سره په تضاد کې دی، هغه قانون د اوبو کارونکو ته مهم دریځ ورکوي چې پرېکړې وکړي او نور لوبغاړي د سلاکارۍ رول پورې محدودوي. نوی اداري جوړښت ښایي له اوسنیو مهمو منځګړو سره هم ښه ونه چلیږي، هغوی د لانجو د حل په بهیر کې د وروستۍ پرېکړې د ترسره کوونکي په توګه مهم ټولنیز او سیاسي دریځ خپلوي.

### د اوبو او برېښنا وزارت د لانجې د حل د ستر لوبغاړي په توګه د اعتبار وړ دی؟

د لانجو د حل په تړاو قانون وروستی مسوولیت د اوبو او برېښنا وزارت ته سپارلی دی. څېړنه ښیي چې ځایي واکمن نه غواړي چې په کابل تکیه وکړي ځکه چې دوی په خپله خاوره کې د بهرنیو د سیاسي مشرتابه اغیزه نه غواړي. په دې برخه کې به د لانجې د حل د یوه ستر لوبغاړي په توګه د اوبو او برېښنا د وزارت انتخاب له سیاسي پلوه ناپېیلی ونه بلل شي. د اوبو په ساحو او ورنژدې برخو لکه سرپل کې چې سیاسي مشران ځانونه له کابله په کې لیرې ساتي نو د دغه قانون پلي کېدلو سره ښایي یا مقاومت وشي او یا بالکل پام ورته ونه شي.

له دې سربېره د سرپل په څیر قضیو کې په ځایي کچه د اوبو او برېښنا وزارت (د بېلګې په توګه د اوبو او برېښنا ریاست) له ۲۰۰۱ کال راهیسته پېر کې ډېر مشروعیت نه دی لرلی. په ځانګړې توګه دوی له ډېره وخته منل شوی ټولنیز دریځ نه دی لرلی چې د یوه مشروع او اغېرمن منځګړي په توګه کار وکړي. که چیرې دوی دغه دریځ خپلول غواړي نو د اوبو او برېښنا وزارت باید د یوه بااعتباره خادم په توګه اوږد مهال کې پر خپل نوم او تصور کار وکړي. تر هغو به د اوبو کاروونکي له هغو منځګړو کار اخلي چې د لانجو د حل په برخه کې واک او مشروعیت لري.

له لویه سره، دا استدلالونه ښیي چې په ۲۰۰۹ کال کې د اوبو په قانون کې وړاندیز شوي نوي ایس بی اې/ایس بي سي ماډولونه د اهمیت او مشروعیت له مخې وننګول شي. بالاخر دا خطر شته چې نوې اداري چارې ښایي هغسې له پامه وغورځول شي چې د اې ای اي یو په پخوانۍ څېړنې کې یې یادونه شوه. ( وګورئ د ټامس ایت ال، ۲۰۱۲ )

## • د ماډل د ګډې ارزونې او اضافي ارزښت اړتیا

په اوسنۍ بڼه داسې شواهد لږ دي چې نوې ماډل تګلاره دې شته چارې ښې کړي ان ښایي لا تاواني ثابت شي. مهمه دا ده چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په دې پوه شي چې د اوبو د ښې حکومتوالۍ لارې چې په افغانستان کې د اوبو د سکتوراصلاحات طرح کوي باید په افغانستان کې له شته ځایي او سیمه ییزو کاردودونو راونه ځي.

څرنګه چې د افغانستان اسلامي جمهوری دولت د خپل ماډل د عملي کولو هڅه کوي نو ښه مشوره به ورته دا وي چې داسې هلې ځلې وکړي چې د ګډې ارزونې په مټ د لانجو د حل اوسنۍ لار د هغو لارو چارو سره سم وګوري لکه ګډون، شفافیت، په ځایي کچه د پرېکړوکول، د پرېکړو واک د اوبو کاروونکو ته سپارل او نورې ( لویدیځ ) نظریې چې د افغانستان د اوبو په قانون کې ځای پر ځای شوي دي. دا به له دې اټکل سره مرسته وکړي چې ځایي لوبغاړي د لانجې حل ته د اوسنیو دودونو پر ځای په بدیلو لارو اعتبار کوي که نه. که خبره همدا وي نوې لارې باید د هراړخیز بهیر له لارې تعریف شي. خو که د اوبو کاروونکي د اوسني پروسیجر یا کاردود د بدلون اړتیا ونهویني ایس بی اې/ایس بی سي ماډلونه د یوه مشروع یا ګټور بدیل په توګه د ځان منلو ډېر چانس نه لري.

**د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد خپرونې**

| نېټه | د خپرونې نوم | لیکوال | پښتو | دری | د څېړنې موضوع | د څېړنې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اگست ۲۰۱۴ | د افغانستان اساسي قانون لس کلن شولانجې کومې دي؟ | محمد هاشم کمالي | | | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| اگست ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو ښخړو د حل لپاره د میکانیزمونو وضعیت | اروني جیاکودي | | | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| اگست ۲۰۱۴ | ناهیلیتوب یا امیدواري؟ له ۱۳۹۳م (۲۰۱۴) کال څخه وروسته په افغانستان کې د کوکنار کښت | پاول فیشستین او دیوید منسفیلد | ✔ | ✔ | د طبیعي سرچینو مدیریت | موضوعي څېړنه |
| جون ۲۰۱۴ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: ننګرهار ولایت بېلګه | اشلي جکسن | ✔ | ✔ | پایښت لرونکی معیشت | موضوعي څېړنه |
| جون ۲۰۱۴ | د ګردی میز بحث: د افغانستان د ټولټاکنو تجربې | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | | | حکومتداری | د ګردی میز د بحث جریان |
| جون ۲۰۱۴ | له بد و بې بدتر کېږي د نښتو په ولایتونو هلمند او ننګرهار کې د کوکنارو کرنه پام | دیوید منسفیلد | | | د طبیعي سرچینو مدیریت | موضوعي څېړنه |
| می ۲۰۱۴ | افغانستان: د کلیو د جلاکولو او ارزونې لپاره د یوې طریقې جوړول | آدم پیین | | | پایښت لرونکی معیشت | کاري قاعده |
| می ۲۰۱۴ | د الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود دولسمه ګڼه ۲۰۱۴ | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | ✔ | ✔ | | کتاب |
| می ۲۰۱۴ | افغان ملی پوځ له مالي اړخونو ها خوا د پایښت پروړاندې پرتې ننګونې | انتونیو جیستازي او پیتر کوینتن | | | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | ټولنیز ملاتړ او د کار پروګرامونه څنګه په ټولنیزو ځایوالي کې ونډه اخلي؟ د افغانستان، بنګله دیش، هند او نیپال څخه شواهد | بابکن بابا جانیان، جسیکا هاګن-زانکر او ربیکا هولمز | ✔ | ✔ | جندر | ترکیبی څېړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د برک ( BRAC (د ژوندانه د مهارتونو د زده کړو او کاري مهارتونو د روزنې ونډه په ټولنیز مشارکت کې | چونا اچاوز ،بابکن بابه جانین ،جسیکا هیګن زنکر | ✔ | ✔ | جندر | پالیسی پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۴ | د کار او اشتغال موندنی کړنلاری څرنګه په افغانستان کې له ټولنیز ادغام سره مرسته کوی؟ د BRAC )برک(د ژوند د روزنیزو مهارتونو او د ځوانو ښځو د معیشت لپاره د زده کړی بیلګی | چونا آر. ایچاویز، بابکن بابا جانیان، جسیکا هاګن-زانکر ،شاهین اکتر، او جنیفر باګوپورا | ✔ | ✔ | جندر | موضوعي څېړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | د خاوري ارزونه: په ۲۰۱۳ کال کې د بلخ او بدخشان په ولایتونو کې د کوکنارو کرکیله | پاول فیشستین | | | د طبیعي سرچینو مدیریت | موضوعي څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو په اړه قضاوت او د قانون د نه مراعاتولو خطرونه | غزال حارث | | ✔ | حکومتداری | موضوعي څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | په افغانستان کې حکومتولي: یو پېژند | آریا نجات | | | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ( پانګونو ) پرمختګ او سیمه ییزه سوداګري | مجیب مشعل | | ✔ | سیاسی اقتصاد | کاري لیکنه |

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده. ددې اداري دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چاروښتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه ، د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې دترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څېړنیزې وړتیا د پیاوړي کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شنو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ (AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه یو بورډ لري چې د مرستندویو ادارو، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري. AREU اوسمهال د خپلو مرستو ډېره برخه د فیلنډ له سفارته، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه اداري (SIDA) او د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس له اداري (SDC) څخه تر لاسه کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمېسیون (EC)، د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس اداري (SDC)، د نړیوال پرمختګ انسټیټیوټ (ODI)، د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداري (UNDP)، نړیوال بانک، د منځنۍ اسیا پوهنتون (UCA)، د امریکا د سولې انسټیټیوټ (USIP)، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې، GmbH) (GIZ او د فیلینډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.